# پنسلک

ماهنامه | میاشتنۍ

لومړی کال | لومړۍ ګڼه | قوس ۱۳۹۷


هو، موړېې کرای شو

**ماشومان که د مشرق که د مغرب دي**
**د ژړا او د خندا اندازې یو دي**

## پنسلک؟

گرانو ماشومانو!

مبارک مو شه! دا دی مورا تعلیمي او تحصیلي کمپلکس تاسې خوږو ماشومانو ته هم میاشتنۍ چاپ کړه.

هو، مورا تاسي نه یئ هېر کړي او کله به مو هم هېر نه کړي، ځکه مورا خپله هم ماشومان لري، ښکلی ښوونځی او وړکتون، نو کله د خپلو میندو او پلرونو سره راشئ او وګورئ چې ستاسې لپاره د مشرانو په زړونو کې څومره مینه شته.

ښه نو رابه شو پنسلک ته، پنسلک کې به تاسې کیسې، شعرونه، ټوکې، کیسۍ او ډول ډول معلومات لولئ ، هو ریښتیا هېر مو نه شي ستاسې عکسونه به هم په کې چاپېږي.

خو ګورئ! یواځې به مو نه پرېږدئ او خپل مطالب به حتما راته رالېږئ.

ژمی راروان دی، پنسلک به د ژمي په رخصتیو کې ستاسې ښه ملګری وي.

هو ریښتیا، دلته چې څه لولئ هغه خپلو هغو وړو خویندوورونو سره چې لا ښوونځي کې نه دي او لوستل نه شي کولای هم شریک کړئ.

ځکه پنسلک ستاسې ټولو ماشومانو دی.

خبرې به لنډې کړم، ځکه د مطالبو لوستلو ته مو سودا وي، خو یوه اخره خبره هغه دا چې په دې ګڼه کې یوه کیسۍ یا چستان هم شته، ځواب یې پیدا کړئ، هر چا چې پیدا کړو زمونږ له خوا یو پنلسک جایز لري.

لوی سړي او لویې میرمنې شئ!

په درنښت

اداره









## در این شماره


من خوبم یا تو؟

صفحه ۲

د مشرانو خاطرې

۲ مخ

شعرونه او ټوکې

۳ مخ

هیلی

۳ مخ

البوم کودکان مورا

ص ۴

# ګرانو لوستونکو او نازولیو ماشومانو!



د ژوند په خوږو ماړه اوسئ.

غواړم له تاسو سره د خپل ماشومتوب د یوې ترخې خاطرې او بیا د یوې خوږې خاطرې کیسه وکړم.

زه لکه د افغانستان د ګڼو کورنیو ماشومان د یوې غریبې کورنۍ ماشوم وم، په درېیم ټولګي کې وم. د لیندۍ (قوس) د میاشتې سړې ورځې وې، او زه باید ښوونځي ته د خپلو آزموینو په نتیجو پسې تللی وای، زموږ ښوونځی زموږ له کوره لرې و، واوره وریده او د کابل لارې ،کوڅې هم تولې ختې وې ، موږ زده کوونکي چا ملي بس ته په اسانه نه ورپرېښودو، ملي بسونه ډېر ډک وو، خو په یو ډول په بس کې وختم، په وروستي تم ځای کې چې دخلکو په ټېل مټېل کې راکوزیدم نو د ټوټه یي کرمچانو یو بوټ مې څېرې شو، هوا دومره سړه وه چې له لانده او څېرې شوی بوټ څخه را وتلې پښه مې لګه د یخ ټوټه داسې بې حسه شوې وه، ما فکر کاوه، چې ټول خلک زما شلیډلي بوټ او یخې شوې پښې ته ګوري، ډېر شرمېدم او د ښوونځي خواته مې منډې وهلې. ټولګي ته چې ننوتم، نور تر ما مخکې راغلي وو، زموږ په ټولګي کې نجونې اوهلکان سره ګډ و، ښوونکې زما لامده خیشته بدن ته ځېر شوه، یوه مهربانه موسکا یې وکړه ټولګیوالو راته حیران حیران کتل، یو څو ماشومان مې شلیدلي بوټ او له بوټ څخه راوتلې پښې ته متوجه شول، خپلو کې یې کوم څه وویل، کوم یوه یې وخندل، خو په دې کې زموږ د ښوونکې تاوده او مهربانه غږ د ټولګي سړه چوپتیا ماته کړه، هغې زه ځان ته وروبللم بیا یې نورو ته مخ ور واړاوه، چې:

دادی ستاسو د ټولګي اول نومره را ورسیده ...

یوه د خوشالۍ، خپګان او وارخطايۍ ورځ وه، زه بیا هم اول نومره شوی وم، کله چې ما د یخ له زوره خپل ریږدیدلي لاسونه خپلې ښوونکې ته ور وړاندې کړل نو هغې دپارچې تر څنګ یوه کتابچه او څو رنګه پنسلونه سوغات راکړل، مانه مې خپل شلیدلی بوټ هېر شو او د اول نومره ګۍ خوشالیو په سر واخیستم.

نو ګرانو میلمنو ماشومانو!

زه له جګړې سره زیږیدلی یم او له اوږدې جګړې سره را لوی شوی یم، ډېرې سختې ورځې مې تیرې کړې دي، بې وزلي، کډوالي، سخت کارونه او سړې تودې ،خو له دې ټولو سره سره هم په ښوونځي او هم په پوهنځي کې تل اول نومره وم او په دې توګه له ډېرو ترخو خاطرو سره دا یوه خوږه خاطره تل له ماسره وه.

تاسو ته زما مشوره داده ،چې د خپل ژوند هرې ترخې ته مه خپه کېږئ او تل خپل خواږه خاطرات په خپلو لاسونو جوړ کړئ.

هر ګټور کتاب، مجله او اخبار مو چې پیدا کړ ویې لولئ. او ډېر یې ولولئ، له انځورونو یې خوند واخلئ او له خپلو نورو خوږو همزولو سره یې په ګډه کیسې وکړئ.

له ټوپکو او وسلو څخه لرې اوسئ، له جګړې څخه کرکه وکړئ. او کله چې لوی شوئ خپلو هېوادوالو ته سوله، مینه او پوهه وبښئ . افغانستان ستاسو ګډ کور دی او ستاسو په زیار به ودانېږي.

تاسو دې تل خوښ او خوشاله یاست

ودان دې وي افغانستان

ستاسو دلوبو او خوشالیو ملګری

عبدالغفور لېوال

---

# من خوبم یا تو؟

محب الله زغم



در بین بکس مکتب سر و صدا بود. پنسل، پنسل پاک و قلم با هم دعوا داشتند.
پنسل گفت: مه بسیار خوب استم. اگه کدام چیزی توسط مه غلط نوشته شوه، دوباره پاک میشه.
پنسل پاک گفت: تو خو کدام کمال نداری. اگه غلطی های تو پاک میشه خو توسط مه پاک میشه. حالی تو بگو که تو خوب استی یا مه؟
پنسل سر خود را تکان داده گفت: نی، نی. ایطور نیس. اگه مه نوشته نه کنم، تو چی ره پاک میکنی؟ کمال از مه اس که نوشته کده میتانم.
در این لحظه قلم سر خود را بلند کرد، گفت: چی غالمغاله شروع کدین؟ او پنسلک! تو دیگه چی خوبی داری؟ اگه غلطی های تو ره پنسل پاک پاک میکنه، نوشته های درست ته هم پاک میکنه. کار تو خام اس. به مه ببین! کار مه پخته اس. یک دفعه که چیزی نوشته کدم باز کسی پاکش کده نه میتانه.
پنسل گفت: بس، بس! چرا؟ رنگ تو کتی رنگ پاک پاک نه میشه؟
قلم گفت: تو خو یک عیب دیگه هم داری. اگه کسی تو ره کتی قلم تراش سر نه کنه، تو هیچ نوشته کده نه میتانی.
پنسل پاک از کنج بکس خیز زد و گفت: عیب خوده نه می بینی؟ یگان وقت که قی می کنی، هم خوده چتل می کنی، هم ما ره و هم بکس ره.
هر سه تای شان درگیر بودند. هر کدام شان می گفت که مه خوب استم، تو نیستی. هیچ کدام شان گپ دیگری را قبول نه میکردند. دعوای شان کلان شد.
در این هنگام مجیب به خانه رسیده بود. بکس را از پشت خود تا کرد که در الماری بماند. ناگهان متوجه شد که در بین بکس سر و صدا است.
بکس خود را باز کرد. دید که حال بد است.
پرسان کرد: چی گپ اس؟ چرا از یخن یکی دیگی تان گرفتین؟
پنسل، پنسل پاک و قلم هر سه برایش قصه کردند و بعد گفتند که حالا تو قاضی شو و بگو که در بین ما کی خوب است؟
مجیب گفت: ببینین! شما هر سه راست میگویین اما هر سه تان به راه غلط روان استین.
همه پرسیدند: چطور؟
مجیب جواب داد: حالی بریتان میگم. اول خو شما کتابچه ره فراموش کدین. اگه کتابچه نه باشه، شما سر چی نوشته می کنین؟ دیگه ای که اگه شما هر سه تان خوب نه می بودین، مه چرا شما ره می خریدم؟ هر کدام تان ده جای خود به کار مه میایین. هر سه تان خوب هستین. کتابچه هم خوب اس، کتاب خو بیخی خوب اس. ای بکس بیچارهء مه که آرام شیشته و هیچ چیزی نه میگه، ای هم خوب اس. اگه بکس نه باشه، شما ره ده چی ببرم و بیارم؟
چند لحظه همه گی خاموش بودند. هر یک فکر می کرد که مجیب راست می گوید. بعد یک دیگر را به آغوش گرفتند. با کتاب و کتابچه بغل کشی کردند. روی خود را به روی بکس مالیدند. پنسل، پنسل پاک، قلم، کتاب، کتابچه و بکس مکتب با هم دوست شدند و با هم توافق کردند که هر کدام شان باید با مجیب کمک کنند.

---

## کیسۍ

جامې یې تکې توري
پخپله تکه سپینه
جامې یې د لرګیو
پخپله د غوړیو
وایه څه ده، وایه څه ده؟





# خوږې کیسې
## شعرونه او ټوکې

## هیلۍ

ژباړه: اجمل پسرلی

یوه هیلۍ له خپلو چوچنو سره د اوبو د ډنډ خواته روانه وه. چوچني یې خوشاله و په مور پسې روان وو او په لاره کې یې کغ کغ کاوه.
یو ناڅاپه د هیلۍ له لرې په ګیدړې سترګې ولګیدې.
هیلۍ وویریده او پر خپلو چوچنو یې غږ کړ «تاسو په منډه ډنډ ته درځئ، ګیدړه راروانه ده»
چوچني د ډنډ خواته روان شول. هیلۍ حیرانه شوه چې څه وکړي. بیا په شا وګرځیده او یو وزر یې په ځان پسې وښکاوه.
کله چې ګیدړې هیلۍ ته وکتل، خوشاله شوه. له ځان سره یې وویل «هیلۍ ټپي شوې، نه شي الوتلی نو اسانه به یې ونیسم»
ګیدړې ورمنډې کړې. هیلۍ هم منډې کړې او په هغه خوا روانه شوه چې ګیدړه له ډنډه لرې شي. هیلۍ فکر وکړ چې چوچوني به یې اوس ډنډ ته رسیدلي وي نو ودریده او ژوره ساه یې وایسته.
ګیدړې فکر وکړ چې هیلۍ ستړې شوې ده نو ورنږدې شوه خو هیلۍ دستي وزرونه وغوړول او په هوا شوه.
هیلۍ د ډنډ په مینځ کې کوزه شوه او له خپلو چنچنو سره یوځای شوه.
د ګیدړې هیڅ باور نه کیده، دا د ډنډ مینځ ته نه شوای ورتلی.



Freshta Hashimi

I am a book
I am not poop
Some body loves me
Some body hates me
Some body cares me
Some body tears me
Say to them message
Keep me like package

### کتاب

**من کتاب نازك ام**
**میگم برایت رازك ام**
**بامن بمان همیشه**
**قلبت میشه مثل شیشه**
**پوشم را بخوان اول**
**دارم حروف عسل**
**قصه های شیرین دارم**
**پیام های رنگین دارم**
**صبح و شام کن دیدارم**
**عمل کن به گفتارم**

**فرشته هاشمی حنانزی**

یو وخت سخته ګرمی وه ، هلک راغی او
پلار ته یی وویل :
پلاره ! د کوټې د چت " پکی" بیا خراب
شوی
پلار یی په قهر شو او په غصه کې یې ورته
وویل :
سل ځلې مې درته ویلی چې
لس کسه د پکي لاندې مه کینئ ...
دومره زور نلري

اولی: اگر دریا خشك شود ماهی ها کجا میروند؟
دومی: د درخت بالا میشوند.
اولی: شتر خو نیستند که د درخت بالا شوند.

# کودکستان مورا وړکتون
















پنسلک د ماشومانو لپاره میاشتنۍ خپرونه
د امتیاز خاوند: مورا تعلیمي او تحصیلي کمپلکس
مسووله مدیره: ریحانه حکیمي
بریښنالیک: info@moraa.edu.af
د ټلیفون شمېره: ۰۷۶۵۶۶۶۰۰۰
پته: کابل، افشار، د سرې میاشتې د مرکزي دفتر شاته